**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د الله سبحانه وتعالی صفتونه او د هغو حکمتونه

## (ژباړه)

له عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله وفرمایل:

**«لَيْسَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ، وَلَيْسَ أَحَدٌ أَغْيَرَ مِنَ اللَّهِ، مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ، وَلَيْسَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللَّهِ، مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ أَنْزَلَ الْكِتَابَ وَأَرْسَلَ الرُّسُلَ»** (صحیح مسلم: ۵۰۸۷)

***ژباړه:*** *هېڅوک د الله (سبحانه وتعالی) په اندازه حمد او صفت نه خوښوي، نو ځکه یې خپل صفت کړی دی. هېڅوک د الله (سبحانه وتعالی) په اندازه غیرت نه لري، له همدې امله یې ناوړه کار منعه کړی دی او هېڅکو د الله (سبحانه وتعالی) په اندازه عذر نه خوښوي، نو ځکه یې قرآن نازل کړی او پیغمبران یې رالېږلي دي.*

دغه حدیث شریف د الله سبحانه وتعالی په اړه خبرې کوي او موږ هغو کارونو ته هڅوي، چې د هغه سبحانه وتعالی د خوښۍ لامل کېږي. همدارنگه الله سبحانه وتعالی دا خوښوي، چې د ځان ثناء او صفت د خپلو بنده‌گانو له خولې واوري. له همدې امله په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې یې د خپل ذات صفت کړی دی او کله چې موږ د هغه سبحانه وتعالی ثناء او صفت وایو، په حقیقت کې د الله سبحانه وتعالی په ربوبیت او لویوالي اقرار کوو.

الله سبحانه وتعالی ډېر غیرت لري او ناوړه کارونه یې چې دغه غیرت لمس کوي، بد گڼلي دي او له همدې امله له ناوړه کارونو څخه نفرت لري، هغه یې حرام کړي او ترسره کېدل یې د الله سبحانه وتعالی د قهر لامل کېږي.

الله سبحانه وتعالی دا خوښوي، چې عذر او پلمه ورته وشي. له همدې امله یې پیغمبران او کتابونه رالېږلي دي، ترڅو موږ ته لارښوونه وکړي او که له موږ څخه کومه تېروتنه کېږي، چې عذر مو ومني. هغه سبحانه وتعالی پر خپل ذات واجب کړي، چې تر هغه وخته به موږ ته عذاب نه راکوي، چې څو یې د هغه سبحانه وتعالی د رضایت او نه رضایت د پوهاوي لپاره پیغمبر نه وي رالېږلی. موږ ته یې زموږ له جنس څخه پیغمبران را ولېږل، ترڅو د هغو پیروي وکړو او هر هغه څه په خپل ژوند کې پلي کړو، چې له هغوی څخه یې وینو او یا یې اورو، ترڅو وژغورل شو او د بریالیو کسانو په ډله کې راشو.

**ژباړن: صهیب منصور**